# هېڅ داسې يو بنده نشته چې الله تعالی د يو رعيت (چارې) ورترغاړې کړي، بيا مړ شي او په کومه ورځ چې مړ کيږي نو خپل رعيت لره غولوونکی وي، مګر دا چې الله تعالی به پرې جنت حرام کړي

له معقل بن يسار المزني رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې: "هېڅ داسې يو بنده نشته چې الله تعالی د يو رعيت (چارې) ورترغاړې کړي، بيا مړ شي او په کومه ورځ چې مړ کيږي نو خپل رعيت لره غولوونکی وي، مګر دا چې الله تعالی به پرې جنت حرام کړي".
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې هر هغه څوک چې الله تعالی د خلکو حاکم او مسوول وګرځوي، که هغه د شهزاده (امير) په څېر عمومي مسؤوليت ولري، يا خاص مسووليت ولري لکه سړی او يا ښځه په خپل کور کې، نو په خپل رعيت کې يې کوتاهي وکړه، او دوکه يې وکړه او په اړه يې سپارښتنه ونکړه، ديني او دنيوي دواړه حقونه يې ورته ضايع کړل، نو د دې سختې سزا مستحق دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5335